مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۵/۱۰/۰۱

# د تولستوی وروستی وخت

د ستر روسي اديب (ليو تولستوی) د تخليق قدر او مقام دومره لوړ دی چې نړۍ يې تر اوسه په سحر کې اخته ده.
نړۍ ته د (جنګ او سولې) په څېر شاهکار اثر ورکوونکی ليو تولستوی د خپل ادبي ژوند په په لومړيو ورځو کې و
چې له صوفيه نومې ښکلې نجلۍ سره يې واده وکړ.

صوفيه د تولستوی د ژوند ښه همسفره ثابته شوه، ژر يې د هغه تخليقي هنر وپېژانده، په کور کې يې پرسکونه ماحول
ورته تيار کړ، تولستوی به ټول وخت په خپل کار بوخت و چې ښه نتيجه يې ورکړه او ژر ژر په ټوله نړۍ کې
وپېژندل شو.

د دواړو ترمنځ نه يوازې دا چې مثالي مينه وه په يو بل يې کلک باور هم درلود.
صوفيې دا متل چې: (د هر کامياب نر تر شا د يوې ښځې لاس وي) درست ثابت کړ.

ستر تولستوی ممکن لومړی انسان و چې په خپل ژوند کې يې لا ټوله شتمني غريبو بزګرانو او دهقانانو باندې ووېشله.
چې ژوند اواخرو ته ورسېده نو مهربان تولستوی ناروغ شو او په همدې حالت کې يې داسې عجيبه پرېکړه وکړه چې
له مينې ډک ګډ ژوند کې يې د لومړي ځل لپاره ترخه وشيندل شول.

تولستوی فيصله کړې وه چې له مرګ وروسته به يې د ټولو اثارو حقوق د انسانيت په نوم مفت اعلان شي. په دې
خاطر يې وصيت هم تيار کړ؛ خو صوفيه يې مخالفت وکړ او ويې ويل: شتمني دې له وړاندې خيرات کړې او که د
کتابونو حقوق هم مفت کړې، نو زموږ اولادونه به څنګه ژوند کوي؟
خو رېښتوني او په انسانيت مئين تولستوی يې پرواه ونکړه.

ورو ورو د تولستوی او صوفيې ترمنځ سوړ جنګ پيل شو؛ خو تولستوی د لومړۍ ورځې په څېر باور پرې درلود.
له يوې لور پرته ټول اولادونه د صوفيې په طرف وو.

هغه يوه ډېره سړه او تياره شپه وه. له جهنم څخه را الوتې د سايبريا يخې هوا هډونه منجمد کول.
ناروغ، ضعيف او بې وسه تولستوی د خپلې خونې له بخارۍ سره نيږدې په بستر کې پټ و.
ناڅاپه يې د ليکلو خونې څخه اواز واورېده، له څنګ کوټې ورغی او ويې ليدل چې صوفيه وصيت لټوي.

د تولستوی د کلونو کلونو باور په يوه شېبه کې مات شو. په کوټه کې د شيندل شويو شيانو تر ليدو وروسته تولستوی
هيڅ و نه ويل، له بسترې سره پرتې څپلۍ يې په پښو کړې او چوپه خوله له کوره ووت.

له کوره لږ وړاندې يې يو زوړ د ريل ګاډي تمځای و. په يوې ډېرينې څوکۍ د سړې واورې غونډې پرېوت. ويل
کيږي چې ستر تولستوی په هماغه شېبه مړ شو چې صوفيې يې باور مات کړ، زړبنت، ناروغي او شديد سوړ موسم
ورته هسې بهانه شول.

سهار له ويران تمځای څخه خلکو د تولستوی سوړ، منجمد او له يخنۍ کلک شوی جسد ترلاسه کړ.

يقيناً! رېښتوني تخليق کاران تر خطرناک حده حساس وي او مرګ ترې يوه لوېشت لرې وي.

ژباړه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ